# یونیسف افغانستان

**د بشري وضعیت راپور**
**د 2024 کال د جنورۍ میاشتې له لومړۍ تر 31مې نېټې**

## مهم ټکي

- د 2023 کال د سپټمبر میاشتې له 15مې څخه د 2024 کال د جنورۍ تر 27مې نېټې پورې، له پاکستانه تر 508,000 ډېر افغان بېرته راستنېدونکي راجستر شوي. یونیسف د تورخم او سپین بولدک په پولو کې د روغتیا، اوبو، روغتیا ساتنې او پاکوالي/حفظ الصحې، تغذیې، د ماشومانو د ساتنې او د ټولنیز چلند د بدلون د اقداماتو په برخه کې د غبرګون ملاتړ ته دوام ورکوي.
- د 2024 په جنورۍ میاشت کې، شاوخوا 6.2 میلیونه خلکو، چې نیمایي یې له پنځه کلنۍ څخه کم عمره ماشومان دي، د یونیسف په ملاتړو مرکزونو کې اړین روغتیایي او تغذیوي خدمات ترلاسه کړل.
- د 2024 په جنورۍ میاشت کې، په ټول هېواد کې د یونیسف لخوا په 3,300 ثابتو او ګرځنده روغتیایي مرکزونو کې څه باندې 1.1 میلیونه ماشومان چې عمرونه یې له پنځو کلونو څخه کم دي، د شدیدې خوارځواکۍ په موخه معاینه شوي. له دې جملې څخه 45,627 ماشومانو چې شدیده خوارځواکي یې درلوده (57 سلنه نجونې) د درملنې لپاره بستر شول.
- په جنورۍ میاشت کې، یونیسف د محلي زده کړو (CBE) د 17,918 ټولګیو له لارې د څه باندې 551,000 ماشومانو (64 سلنه نجونو) د زده کړې په برخه کې ملاتړ وکړ.

## د وضعیت عمومي کتنه او بشري اړتیاوې

په افغانستان کې تر سیاسي بدلون وروسته په تېرو دوو کلونو کې، بشري غبرګون تر ډېره بریده د یوه ناورین مخه نیولې ده، خو بیا هم د افغانانو لپاره دا وضعیت خورا ستونزمن دی. 23.7 میلیونه خلک بشري مرستو ته اړتیا لري، چې له دې ډلې 12.3 میلیونه یې ماشومان دي. د افغان کورنیو تر منځ د محرومیت کچه لوړه ده او له دې چارې سره د مقابلې لارې چارې دومره اغېزناکې نه دي. وچکالي او د اقتصادي بې ثباتۍ اوږدې اغېزې د اړتیاوو اصلي لاملونه دي.

په وسله والو شخړو کې له پام وړ کمښت سره سره، افغانستان لا هم د بېړني ملاتړ او د خوندیتوب په بېړني حالت کې پاتې دی، چې دا حالت د اوږدې مودې بې ځایه کېدو، د ماینونو او چاودېدونکو توکو د شتون، پر تګ راتګ د محدودیتونو، د جنسیتي تاوتریخوالي د ډېرېدو د خطر، د ماشومانو د کار، په کم عمر کې د ودونو او د رواني روغتیا او رواني ټولنیز ملاتړ لپاره د اړتیاوو د زیاتوالي له مخې مشخصېږي. افغانستان د جیو پولیټیکي (سیاسي جغرافیې) او سیمه ییزو لاملونو پر وړاندې خوندیتوب نه لري، د 2023 کال[1] د سپټمبر له 15 مې راهیسې د پاکستان د حکومت لخوا د څه باندې یو میلیون بې اسناده بهرنیانو د ایستلو له اعلان وروسته چې ډېری یې افغانان دي، له دغه هېواده څه باندې 508,000 افغانان بېرته راستانه شوي.

پردې سربېره، د اقلیمي بدلون شدیدو اغېزو د اوبو پراخ کړکېچ رامنځته کړی چې د هېواد پر ټولو سیمو یې اغېز کړی او د خوړو، روغتیا او تغذیې په برخه کې یې نوې اړتیاوې رامنځته کړې دي. پردې سربېره، په ځینو سیمو کې د خوړو د خوندیتوب خطر موجود دی. د کړکېچ کچې (د خوراکي خوندیتوب د پړاوونو د ډلبندۍ د درېیم پړاو) پایلې په شمالي، لودیځو او مرکزي سیمو کې رواني دي ځکه چې عایداتي سرچینو ته د کورنیو لاسرسی کم شوی او د 2023 کال له حاصلاتو څخه د خوراکي توکو ذخیره محدوده ده. سره له دې چې له روان ال نینو [په مرکزي او ختیځ استوایي آرام سمندر کې د بحر د سطحې ګرمېدل، یا له اوسط کچې پورته د بحر د سطحې تودوخه] سره په تړاو تر اوسط کچې د پورته اورښت لپاره تمه وې، د 2023 له اکتوبر میاشتې څخه د 2024 کال تر جنورۍ میاشتې پورې مجموعي اورښت د تېرو 40 کلنو د اوسط په پرتله کم دی. د افغانستان په ډېری سیمو کې د 2023 کال له اکتوبر څخه د 2024 کال د جنورۍ میاشتې تر وروستیو پورې د اورښت کچه له 60 څخه تر 90 سلنې پورې وه، چې په شمالي او ختیځو سیمو کې له 60 سلنې کم اورښت شوی[2].

افغانستان د ځمکې د طبقو د راښویېدنې پر ګڼ شمېر لیکو پروت دی ځکه نو د زلزلې له خطر او زیانونو سره مخ هېواد دی. په تېر کال کې په افغانستان کې شاوخوا 400 زلزلې شوې، لکه د 2023 کال په اکتوبر میاشت کې د هرات ولایت د 6.3 درجې درې زلزلې، چې له امله یې د سرپناه په برخه کې اړتیاوې ډېرې کړې. د منځنۍ کچې له ښوونځیو څخه د 1.4 میلیونه نجونو محرومېدل او د سواد له ټیټې کچې سره یوځای دا په دې معنا ده چې زده کړو ته اړتیا پرځای پاتې او یو مهم لومړیتوب ګڼل کېږي.

د 2024 کال د لومړۍ میاشتې سخت ژمي له مخکې څخه د بېلابېلو کړکېچونو له امله زیانمن خلک لا پسې له ستونزو او کړاوونو سره مخ کړل. د ساري ناروغیو ښوودونکې سیستم د شدیدو تنفسي انتاناتو په قضیو کې زیاتوالی ښيي، چې دا ښايي په ټول هېواد کې د موسم له بدلون او ناسمې هوا سره تړاو ولري. د 2024 کال د څلورمې اونۍ[3] په جریان کې، په ټول هېواد کې د شدیدو تنفسي انتاناتو – سینه بغل د 41,794 قضیو او له دغو انتاناتو سره د اړوندو 91 مړینو راپور ورکړل شوی. د 2024 کال د جنورۍ له لومړۍ نېټې راهیسې، په 34 ولایتونو کې د شدیدو تنفسي انتاناتو – سینه بغل د 160,756 پېښو او له دې سره د اړوندو 383 مړینو راپور ورکړل شوی. له دغو ټولو قضیو څخه، 101,189 (62.9 سلنه) تر پنځه کلنۍ کم عمره ماشومان او 79,277 (49.3 سلنه) مېرمنې وې[4].

---

[1] د سرحدي کنسرسیوم راپور (د 2024 د جنورۍ میاشتې له 14مې تر 27 مې نېټې پورې)
[2] (FEWSNET-Afghanistan) د قحطۍ د مخکښې خبرداري د سیستم شبکه – افغانستان، د مهم پیغام ابډېټ، جنوري 2024.
[3] د جنورۍ میاشتې له 21مې تر 27 مې نېټې.
[4] د روغتیا نړیوال سازمان: د ساري ناروغیو د خپرېدو د وضعیت راپور (د 2024 کال څلورمه شمېره اپیډېمولوژیکي اونۍ).

## د پروګرام د غبرګون لنډ تحلیل

### روغتیا

یونیسف په جنورۍ میاشت کې په ټولو 34 ولایتونو کې د 2,406 ثابتو روغتیايي مرکزونو له لارې د لومړنیو، منځنیو او درېیمې کچې روغتیايي خدماتو د وړاندې کولو ملاتړ ته دوام ورکړ. له دې ډلې څخه په لسو ولایتونو کې د 743 روغتیايي مرکزونو د ډېرو اغېزناکو اقداماتو په موخه ملاتړ وکړ چې په هغو کې تر زیږون وروسته د وینې د بهېدو پر مخنیوي او درملنه، د نویو زیږېدلو ماشومانو له عفونت څخه پر مخنیوي او د زیږون پر کنټرول تمرکز شامل دی. له 6.2 میلیونو څخه ډېرو خلکو د یونیسف په ملاتړ روغتیايي مرکزونو کې اړین روغتیايي او تغذیوي خدمتونه ترلاسه کړي چې په دې کې نیمايي یې تر پنځه کلنۍ کم عمره ماشومان دي. پردې سربېره، 21 ګرځندو روغتیايي او تغذیوي ټیمونو په لیرې پرتو او صعب العبوره سیمو کې 9,831 خلکو ته خدمتونه وړاندې کړي دي. د یونیسف کارکوونکو او ساحوي څارونکو 769 روغتیايي مرکزونه څارلي او د هغوی فعالیت یې ارزولی. لوېې موندنې ښیي چې په سلو کې 99 روغتیايي مرکزونه د میندو او ماشوم روغتیايي خدمتونه وړاندې کوي او 98 سلنه د تغذیې خدمتونه وړاندې کوي. که څه هم، څلورمه برخه روغتیايي مرکزونه د ښځو او نرانو لپاره د حفظ الصحې جلا ځایونه نه لري. همداراز یونیسف د 27,309 روغتیايي کارکوونکو (38 سلنه ښځینه وو) تنخواوې هم ورکړې ترڅو میندو او ماشومانو ته د خدماتو وړاندې کول دوام ولري.

یونیسف د راپور ورکولو په دې موده کې په اتو ولایتونو (22 ولسوالیو) کې د ژمي لپاره روغتیايي توکي ځای پر ځای کړل. پردې سربېره، په هرات ولایت کې د سینه بغل او هایپوترمیا (د بدن د تودوخې لوړېدل) پر درملنې په تمرکز سره د نویو زیږېدلو پر ناروغۍ د هر اړخیز مدیریت په اړه روزنه ترسره شوه.

د شدیدو تنفسي انتاناتو د پېښو ډېروالي ته د رسیده ګۍ د یوې برخې په توګه، یونیسف په 95 ولسوالیو کې د دغو پېښو د مدیریت لپاره څه باندې 2,400 روغتیايي مرکزونو ته روغتیايي تجهیزات ورکړل. د شدیدو تنفسي انتاناتو په اړه د ټولنیز پوهاوي لوړولو لپاره، یونیسف د ډله ییزو ټولنیزو کمپاینونو او د ټولنیز مشارکت د اقداماتو ملاتړ کوي. پردې سربېره، په هېواد کې د شدید نس ناستي (اسهال) د خپرېدو لپاره د چمتووالي د یوې برخې په توګه، یونیسف د راپور ورکولو په موده کې د خوراکي درملو له لارې د بدن د اوبو د بېرته پوره کېدو یا له نس ناستی څخه د ښه کېدو د 5,998 ځایونو او 154 بستر لرونو مرکزونو سره مرستې ته دوام ورکوي .

یونیسف د هرات ولایت په اتو ولسوالیو کې د زلزله ځپلو لپاره د روغتیايي پروګرام د اقداماتو ملاتړ ته دوام ورکړ. د راپور ورکولو په موده کې، 120,969 خلکو ته د واکسین او تغذیې د ملاتړ په شمول د مور او ماشوم روغتیايي خدمتونه وړاندې شول. پردې سربېره په دغو زلزله ځپلو ولسوالیو کې له 6,000 څخه ډېرو کسانو رواني روغتیا او رواني ټولنیز ملاتړ خدمتونه ترلاسه کړل او 4,560 کوچنې جراحي عملیاتونه شوي دي.

یونیسف هم په ترتیب سره د تورخم او سپین بولدک په پولو کې بېرته راستنېدونکو ته رسیده ګي وکړه. څه باندې 5,000 خلکو لومړني روغتیايي خدمتونه ترلاسه کړل چې له دې ډلې 510 مېرمنو تر زیږون مخکې د پاملرنې خدمتونه ترلاسه کړل ، 276 تر زیږون وروسته خدمتونه ترلاسه کړل او 11 زیږونونه وشول. څه باندې 3,000 کسانو ته د پوهاوي لوړولو غونډې جوړې شوې، له 3,600 څخه ډېرو خلکو د واکسین خدمتونه او 318 رواني مشورې ترلاسه کړې. په تورخم کې د شدید نس ناستي/ کولرا د درملنې لپاره لس بستریزه ځانګه جوړه شوه.

د راپور ورکولو په موده کې، د واکسین د معمول پروګرام د یوې برخې په توګه، 130,166 ماشومانو ته شري (سرخکانو) واکسین ورکړل شول، 140,491 ماشومانو ته پېنټا والېنټ یا پنځه ګوني واکسین ورکړل شول او 171,827 کسانو د کووېډ - 19 واکسین وکړل. پردې سربېره، په 10 ولایتونو (29 ولسوالیو) کې د واکسین د تطبیق د کمپاین له لارې څه باندې 200,000 کسانو د کووېډ-19 واکسین ترلاسه کړل.

### تغذیه

په جنوري میاشت کې، په ټول هېواد کې د یونیسف لخوا په ملاتړو 3,300 ثابتو روغتیايي مرکزونو او د ګرځنده روغتیايي او تغذیوي ټیمونو له لارې تر پنځه کلنۍ کم عمره 1,144,856 ماشومان د شدیدې خوارځواکۍ په موخه معاینه شول. له دې ډلې 45,627 ماشومان چې شدیده خوارځواکي یې درلوده (57 سلنه نجونې) د درملنې لپاره بستر شوي دي. په سویلي سیمه کې، یونیسف د تغذیې خدمات 14 ګرځنده روغتیايي او ثابتو مرکزونو ته لوړ کړل. د راپور ورکولو په موده کې له 190,000 څخه ډېرو تنکیو نجونو د ټولنیزو کمپاینونو له لارې د اوسپنې او فولیک اسید بشپړوونکي ترلاسه کړي او نږدې 575,000 ماشومان چې عمرونه یې له 6 څخه تر 59 میاشتو پورې دي د شېږ میاشتنۍ دورې لپاره د تقویتي پوډر بستې ترلاسه کړې[5].

یونیسف له زیږون څخه تر 23 میاشتو پورې عمر لرونکو ماشومانو څه باندې 200,000 پالونکو/مراقبت کوونکو ته د مور، نوي زیږېدلي او ماشوم د تغذیې په اړه د مشورې خدمات وړاندې کړي. د ډاکټرانو، نرسانو، قابلو او د تغذیې د مشاورینو په ګډون ټول 303 روغتیايي کارکوونکي د مور، نوي زیږېدلي او ماشوم تغذیې په اړه وروزل شول. په ختیځه سیمه کې، یونیسف د 152 اضافي کارکوونکو (نرسانو، د تغذیې مشاورینو او ټولنیزو څارونکو) په ګومارلو سره د ښاري برخو د تغذیې د پروګرام لپاره ملاتړ بیا پیل کړ، چې له مخکې څخه د شدیدې خوارځواکۍ د هر اړخیز مدیریت د لارښوونو او کټنو په اړه روزل شوي وو. پردې سربېره، په شمالي سیمه کې 570 ټولنیز روغتیايي کارکوونکي د ټولنیزو تغذیوي پروګرامونو او د مټ د محیط اندازه کولو د طریقې په اړه وروزل شول، ترڅو دوی وکولی شي د ټولنې په کچه خوارځواکي لرونکي ماشومان وګوري/معاینه کړي، وېژني او راجع کړي.

### زده کړې

یونیسف په جنورۍ میاشت کې د 17,918 محلي زده کړو (CBE) ټولګیو له لارې د زده کړې په برخه کې د 560,000 ماشومانو (64 سلنه نجونو) ملاتړ وکړ. د هېواد له 34 ولایتونو څخه په 28 ولایتونو کې دولتي ښوونځي په ژمي کې رخصت دي. په جنورۍ میاشت کې ځینو ولایتونو ته د تدریسي او درسي

---

[5] تنکیو نجونو ته د اوسپنې او فولیک اسید ټابلېټ ورکړل شول، او تر پنځه کلنۍ کم عمره ماشومانو ته تقویتي پوډر ورکړل شو چې د وروستۍ ډېټا راپورونه به د 2024 په فبرورۍ میاشت کې د معلوماتو د سیستم له لارې خپاره شي.

موادو او درسي کتابونو د وېش لړۍ پیل شوه[6]. په داسې حال کې چې ډېری ښوونځي په ژمنۍ رخصتۍ کې دي، د نجونو لپاره د منځنیو زده کړو بندیز لاهم دوام لري، چې د منځني ښوونځي د نجونو پر زده کړه اغېز کوي. یونیسف او همکارې ادارې په ساحه کې د وضعیت څارنې ته دوام ورکوي، چې لا تر اوسه د منځنیو ښوونځیو په کچه د نجونو لپاره هېڅ ښوونځی نه دی پرانیستل شوی. د نجونو د زده کړې په برخه کې له پرله پسې ننګونو سره سره، یونیسف د ښوونکو په توګه زده کړې ته د نجونو د لاسرسي (GATE) پروګرام له لارې په دې برخه کې د 164 ښځینه زده کوونکو له روزنې سره مرسته وکړه.

## د ماشوم خوندیتوب، په بېړنیو شرایطو کې جنسیتي تاوتریخوالي (GBViE) او له جنسي ګټې اخیستنې او ناوړه استفادې څخه مخنیوی (PSEA)

شاوخوا 365,000 ماشومانو او پالونکو/مراقبت کوونکو (39 سلنه ښځو او نجونو) د 6,634 معلولو ماشومانو په ګډون، د راپور ورکولو په موده کې د ماشومانو د خوندیتوب، مخنیوي، د خطر کمولو او غبرګون په برخه کې خدمتونو ته لاسرسی درلود. له دې ډلې، 280,508 ماشومان او پالونکي/مراقبت کوونکي وو[7] چې د رواني روغتیا او رواني ټولنیز ملاتړ خدمتونو په اړه یې د ماشومانو لپاره د مناسبو ځایونو، روغتیايي مرکزونو، د لنډمهالو پالنو د مرکزونو او د ښوونځیو له لارې د جوړښت لرونکي رواني روغتیا رواني ټولنیز ملاتړ د پوهاوي مهم پیغامونه ترلاسه کړل. پردې سربېره، 5,354 زیانمنو ماشومانو (1,551 نجونو او 3,803 هلکانو) ته د قضیې د مدیریت خدمتونه رسېدلي، په دغو خدماتو کې د 1,840 بې کسه او جلا شویو ماشومانو لپاره د کورنۍ تعقیب او یو ځای کول شامل وو چې له دې ډلې څخه 789 ماشومان (135 نجونې) له پاکستان او ایران څخه بېرته راستانه شوي دي. د راپور ورکولو په موده کې له 187 ماشومانو سره مالي مرستې وشوې؛ نهو ماشومانو ته د حرفوي مهارتونو روزنه ورکړل شوه او 607 ماشومان د زده کړې په خدمتونو کې بیا ځلي مدغم شول او په ټولو زونونو کې د 354 ماشومانو لپاره د معیشت ملاتړ خدمتونه وړاندې شول.

د چاودېدونکو توکو خطر د ماشومانو لپاره لاهم د پام وړ خطر دی، چې د ماشومانو د لوړ شمېر تلفاتو لامل کېږي. یونیسف او همکارو ادارو د چاودېدونکو توکو د خطر په اړه 60,516 ماشومانو او د ټولنې غړو ته د پوهاوي پروګرام جوړ کړ[8].

د جنسیتي تاوتریخوالي د خدماتو وړاندې کول د ښځو او نجونو پر تګ راتګ د پرله پسې محدودیتونو او همداراز د ښځینه مرستندویه کارکوونکو د بندیز له امله یوه ننګونه وه. له دغو ستونزو سره سره، یونیسف او همکارو ادارو وکولای شول چې د جنسیتي تاوتریخوالي د مخنیوي، د هغو د خطر کمولو او غبرګون خدماتو له لارې 11,262 کسانو (4,939 نجونو، 3,030 هلکانو او 3,293 ښځو) ته رسیده ګي وکړي.

### اوبه، روغتیا ساتنه او پاکوالی/حفظ الصحه (WASH)

یونیسف په جنورۍ میاشت کې په 12 ولایتونو[9] کې 81,837 خلکو[10] ته د څښاک پاکې اوبه برابرې کړې، چې په دې کې د څاګانو کیندل، د لمریزې برېښنا په واسطه د اوبو رسولو د سیستمونو بیا رغونه او نصبول شامل وو. پردې سربېره، 16,325 تنو[11] د ښځو او نرانو جلا تشنابونو ته لاسرسی پیدا کړی چې له دې ډلې څخه 3,200 کسانو په هلمند ولایت کې د بېړنۍ روغتیا ساتنې مرکزونو ته لاسرسی پیدا کړی. پردې سربېره، په اوو ولایتونو[12] کې 13,118 خلکو ته د دوامداره ټولنیزې ښکېلتیا/مشارکت د اقداماتو له لارې رسیده ګي وشوه.

په ټولیزه توګه په 15 ولایتونو[13] کې 71,492 تنو[14] د حفظ الصحې د ترویج د پوهاوي ناستې وکړې چې په صابون سره د لاسونو پر مینځلو، شخصي حفظ الصحې، په کورنیو کې د پاکو اوبو پر مدیریت، پر اوبو جوش کولو، د حفظ الصحې پر پاکو ځایونو او د اسهال د ناروغیو پر انتقال یې تمرکز درلود. پردې سربېره، په یادو ولایتونو کې 78,291 خلکو د کورنۍ حفظ الصحې او د مصرف وړ بستې، د اوبو پاکولو مواد، سطلونه او د اوبو د بوشکو په شمول د اوبو، روغتیا ساتنې او پاکوالي اړین توکي ترلاسه کړل.

یونیسف په څلورو ولایتونو[15] کې په څلورو روغتیايي مرکزونو کې د اوبو، روغتیا ساتنې او د لاسونو د مینځلو ځایونه بیا ورغول، چې د 49 روغتیايي کارکوونکو په ګډون شاوخوا 15,000 کسان ګټه ترې اخلي. یونیسف همداراز په درېیو ولایتونو[16] کې په 10 ښوونځیو کې د اوبو، روغتیا ساتنې او پاکوالي/حفظ الصحې مرکزونه بیا ورغول. په ښوونځیو کې د اوبو، روغتیا ساتنې او پاکوالي/حفظ الصحې پروژو د ښوونځیو شاوخوا 11,338 ماشومانو او ښوونکو[17] ته په دې برخه کې لومړني خدمتونه وړاندې کړي په ورته حال کې 26,272 کسانو ته هم په ښوونځیو او روغتیايي مرکزونو کې د روغتیا لومړنۍ اسانتیاوې برابرې شوې وې.

یونیسف د هرات ولایت په زنده جان، کشک، ګلران او انجیل ولسوالیو کې زلزله ځپلو ته د اوبو د ټانکرونو له لارې، د کورنیو تشنابونو د جوړولو او نصبولو، په ثابتو روغتیايي مرکزونو کې د اداري تشنابونو د نصبولو، د اوبو، روغتیا ساتنې او پاکوالي/حفظ الصحې د موادو د وېش او د حفظ الصحې د ودې د اقداماتو له لارې د اوبو، روغتیا ساتنې او پاکوالي/حفظ الصحې خدمتونه وړاندې کولو ته دوام ورکړ. پردې سربېره، یونیسف د اوبو رسولو د 28 طرحو (د لمریزې برېښنا سیستمونه او برمه یې څاګان) د بیا رغونې او ترمیم له لارې د اوبو رسولو خدمات بیا پیل کړل.

---

6 توکي لا تر اوسه ښوونځیو ته نه دي رسېدلي نو راپور به یې د جنوري په میاشت کې ورکړل شي.
7 51,353 نجونې، 54,079 هلکان، 50,084 ښځې او 124,992 نارینه.
8 20,394 نجونې، 18,681 هلکان، 10,571 ښځې او 10,870 نارینه.
9 کندهار، بلخ، پروان، پکتیکا، بادغیس، هلمند، لوګر، میدان وردګ، بامیان، سمنګان او بدخشان.
10 18,823 ښځې، 21,278 نجونې، 18,822 نارینه او 22,914 هلکان.
11 3,755 ښځې، 4,245 نجونې، 3,754 نارینه او 4,571 هلکان.
12 ننګرهار، دایکندي، هلمند، زابل، پروان، کندهار او پکتیکا.
13 کندهار، دایکندي، پکتیا، پکتیکا، کابل، لوګر، غزني، پنجشېر، اروزګان، هلمند، بدخشان، پروان، خوست، میدان وردګ او زابل.
14 16,443 ښځې، 18,588 نجونې، 16,443 نارینه او 20,018 هلکان.
15 غور، لوګر، سرپل او ارزګان.
16 کندهار، ارزګان او لوګر.
17 3,949 نجونې، 7,153 هلکان، 74 ښځینه ښوونکې او 162 نارینه ښوونکي.

په تورخم پوله کې ببرته راستنبدونکو ته د رسیده ګۍ په موخه 1,578 کورنیو ته د حفظ الصحې بستې ورکړل شوې، د دې ترڅنګ د صفري نقطې، د استوګنې د لنډمهالي مرکز او نوم لیکنې په مرکز کې د ټانکر له لارې 225 متر مکعبه اوبه خلکو ته رسبدلې دي. پردې سربېره، یونیسف 23,612 کسانو ( 11,978 نارینه او 11,634 ښځینه) ته د لاسونو مینځلو، د تشنابونو د کارولو، د څښاک د پاکو اوبو او د کور د اوبو د تصفیې د لارو چارو په اړه پیغامونه استولي دي.

## د ټولنې او سلوک بدلون او اغېزمنو شویو/زیانمنو کسانو ته حساب ورکول

یونیسف په جنورۍ میاشت کې د ملي رسنیو د کمپاینونو او همداراز د معلوماتي، ښوونیزو او روزنیزو او مخابراتي موادو له لارې شاوخوا 3.1 میلیونه خلکو ته رسیده ګي وکړه. پردې سربېره، یونیسف له څه باندې 71,000 خلکو سره د خوارځواکۍ د مخنیوي، د معافیت خدماتو ته ودې ورکولو، ذهني/رواني هوسایېنې، د شدید نس ناستي (اسهال) د مخنیوي، د څښاک د پاکو اوبو خوندي مدیریت او تصفیه کولو، په آزاده فضا کې د حاجت له رفع کولو څخه پر ډډه کولو او د شخصي او کورني حفظ الصحې پر عملي کولو متمرکزې مخامخ خبرې اترې وکړې.

اغېزمنو/ زیانمنو خلکو ته د حساب ورکولو د یوې برخې په توګه، یونیسف د شکایتونو او نظر غوښتنې د میکانیزم له لارې له 47,848 کسانو څخه نظر غوښتنې او شکایتونه ترلاسه کړي. دا نظر غوښتنې د ټولنیزې ښکېلتیا او فیډبیک د 129مرکزونو، د ټولنیزو جوړښتونو، د یونیسف په ملاتړ د کال سنټر او نورو هغو میکانیزمونو له لارې راټول شوي چې د یونیسف او همکارو ادارو لخوا جوړ شوي. نظر غوښتنې د یونیسف پروګرام اړوندو برخو او کلسترونو ته د نورو اقداماتو او د نظر غوښتنې د کړۍ بندولو په اړه د ډاډ ورکولو لپاره لېږل شوې.

په سوېلي سیمه کې د قهرمانانو ټیم[18] له ځینو ښوونیزو مرکزونو سره د 180 زده کوونکو (ډېری یې ښځینه دي) د تحصیلي بورسونو هوکړه لیکونه لاسلیک کړل. دا نوښت د ټولو لپاره د مساوي ښوونیزو فرصتونو د تضمین لپاره یو مهم ګام و.

## جنسیت او د تنکیو ځوانانو پرمختګ او ګډون/مشارکت

یونیسف په جنورۍ میاشت کې د ښځو او نجونو د 46 فعالو او خوندي ځایونو له لارې 9,602 تنو ته د مور او ماشوم روغتیا، تغذیې، د حفظ الصحې د پوهاوي، ګوزڼ (پولیو) واکسین، رواني روغتیا او د جنسیتي تاوتریخوالي د مخنیوي او غبرګون خدمتونو په اړه اړین معلومات او خدمتونه ورسول. په ټولنیزه کچه دغه خوندي ځایونه د لاسرسي وړ دي او ښځو او نجونو ته د دوی د ټولنیزو او اقتصادي اړیکو د ساتلو فضا برابروي، چې دا د ټولنیزې انزوا له امله د رامنځته شوو رواني روغتیایي ننګونو د راکمولو لپاره یو مهم عامل دی. پردې سربېره، یونیسف 5,176 تنو ته د جنسیتي خنډونو او کړنو، جنسیتي تاوتریخوالي، د میاشتنۍ ناروغۍ د روغتیا او حفظ الصحې او نورو په اړه مهم پیغامونه ورسول. د دغو اقداماتو له لارې، نران او هلکان مهمو خدماتو ته د لاسرسي په برخه کې د ښځو او نجونو د ملاتړ په اهمیت پوه شول؛ پردې سربېره، دوی په خپلو کورنیو کې د ښځو او نجونو د مهم رول په اړه هم معلومات ترلاسه کړل.

په سوېلي سیمه کې د جنسیتي غبرګون په برخه کې د خدماتو وړاندې کولو لپاره د مرستې لپاره، ټولټال 990 روغتیایي کارکوونکې د ډېرو موضوعاتو په اړه وروزل شول، چې په دې کې د روغتیا پر وړاندې پر شته جنسیتي خنډونو وپوهېدل، د جنسیتي غبرګون په برخه کې د پالنو د وړاندې کولو څرنګوالی، جنسیتي تاوتریخوالی او له جنسي ګټې اخیستنې او ناوړه استفادې څخه ساتنه، د خطر کمول او غبرګون خدمات شامل وو چې یوازې په دغو مواردو پورې محدود نه دي.

## ټولنیز خوندیتوب او د بشري مرستو د نغدو پیسو لېږد

یونیسف په جنورۍ میاشت کې د یوې میاشتې لپاره ګڼ موخیزې نغدي مرستې ووېشلې، چې دا مرستې په پنجشېر ولایت کې 3,059 کورنیو ته او په هرات ولایت کې 158 کورنیو ته د ژمني غبرګون د یوې برخې په توګه په یو ځل ورسبدې. په موخې وړ کورنیو کې هغه کورنۍ شاملې دي چې د کورنۍ سرپرستي یې معلولین کوي، امېندواره او شیدې ورکوونکې ښځې لري، تر دوه کلنۍ کم عمره ماشومان لري او هغه کورنۍ چې سرپرستي یې د ښځو پر غاړه وي. ژمنی غبرګون د دې لپاره ډیزاین شوی و ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې کورنۍ اړینو خدماتو ته لاسرسی لري، لکه د ماشومانو د هوساینې لپاره ګرمې جامې او کمپلې او د اقتصادي ستونزو له امله له رامنځته شوو زیانونو لکه له ډېرو پورونو، د ماشومانو له کار، په ټیټ عمر کې له ودونو او د ښوونځي له پرېښودلو سره د مبارزې لپاره لنډمهالی مالي ملاتړ.

## د بشري مرستو رهبري، همغږي او ستراتیژۍ

د راپور ورکولو په موده کې، د ماشومانو د خوندیتوب د مسؤلیت ساحې د همکارو ادارو د خدماتو د نقشه کولو د اقدام ملاتړ وکړ او د ګڼ سکتوري ارجاع کولو طریقې یې وکتلې. د ماشومانو د خوندیتوب د مسؤلیت د ساحو د فعالیت د څارنې راپور، د دې دورې په جریان کې د کلستر ټولو غړو ته خپور شو. د تمرین ټولیزه پایله خورا هڅوونکې وه (95 سلنه). د پرمختګ لپاره په کلیدي ساحو کې ملاتړ، د خدماتو وړاندې کول، ببړنی چمتووالی او ذخیره کول شامل دي.

په جنورۍ میاشت کې، په ببړنیو حالاتو کې د ارزونو لپاره د احصایې راټولولو 30 تنه کارکوونکې د پوهنې د برخې کلستر د همکارو ادارو لخوا چې پر ببرته راستنبدونکو یې تمرکز درلود وروزل شول. د ارزونې موخه دا وه ترڅو په ختیځو او سوېلي ولایتونو کې د ببرته راستنبدونکو ماشومانو د زده کړو اړتیاوې په ګوته شي. د دې تر څنګ د پوهنې د کلستر په مرسته د کندهار ولایت د تخته پل د نوم لیکنې په مرکز کې د مرستې دفتر جوړ شو چې موخه یې ببرته راستنبدونکو ته د زده کړو په اړه معلومات ورکول دي.

18 قهرمانان د یونیسف په ملاتړ د ځوانانو شبکه ده.

د راپور ورکولو په دې دوره کې، د اوبو، روغتيا ساتنې او پاکوالي/حفظ الصحې د کلستر د همغږۍ پر فعالیت د څارنې د سروې راپور جوړ او له مهمو همکارو ادارو سره شریک شو، چې په دغو کې ستراتیژیک مشورتي ګروپ، د سیمه ییزو کلسترونو همغږي کوونکي او نورې همکارې ادارې شاملې دي. په ټولیز ډول نظرونه ښه (80 سلنه) او د قناعت وړ (20 سلنه) وو.

د تغذيې کلستر د 2024 کال لپاره د مرستو او بدلونونو د معیاري څارنې او ارزونې د سروې د مشورې لپاره د ملي تغذيې سروې لګښت شوي پلان د لارې نقشه او د مرجع د شرایطو د (TOR) پراختیا ملاتړ وکړ. پردې سربېره، د شدیدې خوارځواکۍ د هر اړخیز مدیریت تخنیکي کاري ګروپ له لارې، کلستر د روغتیا او تغذيې پروګرامونو لپاره د نغدو پیسو ور کولو په اړه د ګډ لارښود په یادښت کې ارزښتناک معلومات وړاندې کړل. پردې سربېره، یاد کلستر د 2023 لپاره خپل کلنی راپور تازه/تجدید کړ او د تغذيې نړیوال کلستر ته یې وسپاره.